# د هېندارو دره

سید جیلاني جلان



www.samsoor.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ

**هغه چاته چې زما او زما له ساده باده هنر سره مینه لري .**

**په درنښت**

**ستاسو جلان**

## دويم ګام

نه پوهيږم دغه کږې وږې کرښې چې د شعر په نوم مې کښلې دي او ستاسو درنو مخ ته يې ږدم د خپل ځان او خپلې ټولنې به مې څنګه او څومره ترجماني کړي وي؟ دا زما د ادب او په ځانګړي ډول د شعر او شاعرۍ په خوږې نړۍ کې دويم ګام دی . لومړی ګام مې د ګلپانو اتڼ کتاب و او دويم ګام مې د هېندارو درې په نوم دی . ښايي زه په دې کتاب کې ډېرې نيمګړتياوې ولرم ځکه چې انسان يم او انسان نيمګړی وي. نو که تاسو درانه ماته خپلې نيمګړتياوې په ګوته کړئ دا به نه يوازې ستاسو له ماسره بلکې د پښتني ادب او پښتني شعر سره لويه مرسته وي. په همدې هيله ستاسو د خوږو نظرونو، فکرونو ، ذوقونو اوذهنونو په لور د هېندارو د درې دروازه پرانيزم .

په انساني مينه

ستاسو جلان

۱۵ غبرګولی ۱۳۹۰

کابل ژوندون راډيو تلويزيون

# د هېندارو دره

# ځانګړني

نوم : د هېندارو دره

شاعر: سیدجیلاني جلان

خپرندوی: د ځاځي بابا ادبي ټولنه

دچاپ شمېر: ۲۰۰۰ ټوکه

لومړی چاپ :۱۳۹۰ لمریز– ۲۰۱۱ زیږدیز کال

اوډون : محمد نبي تدبیر

پښتی : کفایت الله جان

دشاعرد اړیکو شمیرې :۰۰۹۳۷۹۹۵۷۶۷۶۲\ ۰۰۹۳۷۷۷۵۷۶۷۶۲

برېښلیک : jillani_jallan@yahoo.com

Jallan88@hotmail.com

چاپچارې : دانش خپرندویه ټولنه پېښور

بیه: ۱۵۰/ افغانۍ

یار بې مینې ترخه وخت نه خواږه کاږي
زورور دی له ډبرې اوبه کاږي

شوخ ماشوم یې د پلو زینه کې ناست دی
له پیچکو یې تاو کړي ویښته کاږي

خوله به راکړي د یاغي غرور نه لاندې
ژرنده لواړه دانه خوري خو اوړه کاږي

عجیبه د هنري تابلو کشش دی
په ولاړ نظر د ځان په لور زړه کاږي

یار چې ما بیلوي دا یې بې ننګي ده
ننو تي خلک څوک له کاله کاږي؟

ها ساده جلان دې داسې بلا وړی
چې د وینو له سره رنګ یې سکاره کاږی.

۲۷ زمری ۱۳۸۲
غزنی

څرخي يې نازونه په انکار انکار خبرو کې
ته وا ګلان رپيي نري باد ته په ډبرو کې

ستا د محبت ملاتړ لرو چې ځو د اور په لار
ګوره جنګيالي هم څه نا څه ډاډه وي زغرو کې

پاڅه حوصله د درد په وړاندې ځوانه مه بایله !
ژوند دی سړی لوبږي د حالاتو په ژورو کې

ښار به سندریز سړي په لاس لري منمه خو
یو نیم شرنګیدلی شاعر هم شته په ښترو کې

ناست چې د پرهر رڼا ته بیا جلان یوازې دی
تار د چا د مینې غزوي به په سندرو کې

۱۷ سلواغه ۱۳۸۷
کابل نوا راډیو

له ورځې تښتم چې له شوره ډکه ستا غوندې ده
شپې ته پناه وړمه شپه چوپه ده زما غوندې ده

په دغه دښته کې شاید د مینې قتل شوی
په دغه دښته کې اوس هم د زړه درزا غوندې ده

ستا د قربان قربان خبره مې اوس هم جانانه !
د زړه په لپه کې راټوله د دعا غوندې ده

مینې یې داسې کړم چې ګورم ایینه کې ځان ته
وایم چې دا څیره خو څه نا څه اشنا غوندې ده

زه په کې وینم د درد ځای ځای منظرې جلانه !
ستا شاعري ټوله د واورې د رڼا غوندې ده

۱۲ سلواغله ۱۳۸۷
کابل

نه هغه مست یم او نه دنګ د مینارې غوندې یم
اوس د وجود په اوږو بار د جنازې غوندې یم

ای ! چې مې وژنې نو چاړې او خنجر څله راوړې؟
زه خو په مازې باد ورکیږم د ایرې غوندې یم

رانه چاپېر دی د حالاتو د لمبو سمندر
زه يې په منځ کې د شنه لې جزيرې غوندې يم

په دومره خلکو کې هيڅ زړه پورې ونه نيوم
په دومره خلکو کې زه څومره بې اسرې غوندې يم

مه مې راسپړه کنه ګرانې راته وبه ژاړې
د ستا جلان اوس د دردونو د کيسې غوندې يم

۱۱ مرغومي ۱۳۸۷
کابل نوا راډيو

زړه مې هله سند ریزه لمبه واخلي
چې یو ګل پاڅي له بل ګله خوله واخلي

د ښایست زور ته دې هغه وخت قایل شم
باد چې خوله د که کړي ګرد دې له پله واخلي

سره او سپین به په ژړا ورته دلۍ کړي
زمانې به ملنګانو نه وړه واخلي

شاعري مې د مور جانې مرګ خوږه کړه
ګنې څوک به د بر وخت نه خواږه واخلي

جلان د پر پخوا قاتل جانان وژلی
په دې بیا قتل به څه خوند له مړه واخلي

۲۲ مرغومی ۱۳۸۵
غزنی

زه د ګمان په قدم تلم په لمبو واوښتمه
بېرته چې راغلم د خپل تن په ایرو واوښتمه

دومره مې هم د یو چا تورو پښو ته مه رغړوه
همدا دې بس ده چې له کلکې پښتو واوښتمه

ستا دوې خبرې ستا پرشونډو نيغې وڅرخيدې
چې زړه ته کوز شم په دوو مړو زمانو واوښتمه

په وينو سور غشی مې وموند پکې ته ښکاريدې
ستا په انځور کې هم د مرګ په نيزو واوښتمه

ما يې د اوښکو ترشا پانې د مات زړه ولوستې
جلانه ! ياره په ليکلو ښيرو واوښتمه

داسې نه ده چې له مونږه خطا وار دی
دا ساده موسکا د خدای دربار ته لار دی

نڅومه د ژوندون د پاچا لوڼه
پخه شپه، بله ډیوه مست مې ستار دی

ښکلا زړونو ته پيدا ده زړونه عشق ته
يو ګلاب نه مې زده کړی دا شعار دی

لړ د شرم سالو پورته کړه له مخه
د سپوږمۍ په رانه کلي کې مې کار دی

پسرلی د تورو څڼو مبارک شه
ليونو ته له ازله دار تيار دی

اوس ګنډي د وخت څيرلې ښکلا ګانې
ستا جلان د سند ريزې ستنې تار دی

ځومره مغرور وم ځومره ښه خوی د ملنګ مې وکړو
زه چې د زړه له بامه ولوېدمه شرنګ مې وکړو

یاد دې چې نیمه شپه کې ور د زړه راوټکاوه
ما هم خوب پرېښوده ښه وژړېدم ننګ مې وکړو

جانانه ! اوس مې له نیم ژواندې ځوانۍ لرې ګرځه
لکه د لومې تار د درد سیلۍ ته ترنګ مې وکړو

دیوې نوې ښکلا ژبه یې په ګوتو راکړه
چې د طبعیت له لونګین غره سره جنګ مې وکړو

جلا نه مړ شې اخر دومره بې غوري څنګه وي
پانه د ګل وم داده اوسپنه شوم زنګ مې وکړو

۲۲ وري ۱۳۸۵
کابل نوی کارته

مونږ چيرې نه کړ د ژوند بل اړخ باندې سترې فکر
مونږ د ايستلې تورې لاندې مدام وړی فکر

وخت د سرو تودو حالاتو او به خوله کې ورکړې
خو ژوندی نه شو د پښتون د ولس مړی فکر

دا چې مونږ څومره یو ضعیف خلک دا بیله کیسه
مګر مونږ تل بللی خپل فکر پیاوړی فکر

مونږه په هر عصر کې دا پانګه خوندي ساتلې
نه بل ته وړی نه مو بل نه دی راوړی فکر

مونږ به تر هغې یو د بل د لاس اله جلانه !
تر څو چې نکړو د علمیت د کاله غړی فکر

۲۹ غبرګولی ۱۳۸۸
کابل نوا راډیو

ژوند مې ټول ورته ډالۍ دی یو سړی دی یو سړی دی
په ورغوي کې مې پټ دی شین غمی دی یو سړی دی

په زیړ سترګو رواجونو د ځوانۍ د غرور پښې ږدي
ټینګ مې ونیسي په غېږ کې لیونی دی یو سړی دی

ګلدرې پسې نسکورې د ګلابو د ګوګړو
څه جذاب حسن ترې اوري پسرلی دی یو سړی دی

هلته لرې د باغ سر کې دکونډې ونې نه لاندې
دا چې ورو ورو را روان دی دی دی دی یو سړی دی



دومره ګران یم پرې جلانه چې خپل ځان ګڼې جلان
خو پر ما هم دومره ګران دی چې زړګی دی یو سړی دی

۵ وري ۱۳۸٦
غزنی

په تورو څڼو رڼه سیوري له سپین شال وربږي
واه ! د طبیعت په ګلدرو باندې جمال وربږي

لکه شنه غوړګه اوړي راوړي زړونه ځان سره وړي
له ګلابي اشنا نه څه عجب کمال وریږي

چې په هنر کړمه ځان ځای دیار په مړو سترګو کې
پرما ګل زېږې منظرې هغه مهال ورېږي

پرون یې د بر په صمیمي انداز له خولې ووتل
ګرانه ! مخونه چې نړدې شي پرې وبال ورېږي

جلان که هر څو مره د ښار د ماحول رنګ واغوندي
خو ترې شه‌ل به‌ل خویونه کلیوال ورېږي

۲۲ مرغومی ۱۳۸۵
غزنی

چې مې پر څنګو پستې ګوتې له سروره وهي
ته وا په شاړو درو لاس د سپرلي حوره وهي

زړګیه ! دومره خوش باوره تکیه مه کړه پرچا
کچه تربور د پټي پوله له تربوره وهي

د تيږو منځ کې د وريته غمي له نقلې قوله
ورځ هم قاتله ده چې شپه د لمره په توره وهي

دا چې مې مينه پر کچه مزي تړي ګرم نه دی
هندوې ناوې پر تندي خال له سندوره وهي

د جلان هغه د ننګه پښغله انديوا له ده چې
پاس پر ټټر باندې هينداره له غروره وهي

۲۹ مرغومی ۱۳۸۵
غزنی

د ګلابونو پر رومال يې راته سر وتاړه
خدايه ! دا چا مې ژوند دمينې په هنر وتاړه؟

اوس پسې ګرځم په خوږو خوږو پيمخو شيبو
جانان د خپلې ښکلا شا ته د زړه ور وتاړه

ناز يې د سترګو غنم رنګ سیوري ته ساه ورکړله
نن باراني وریځې په زور د اوړي لمر وتاړه

یو سور غمی دوه شنه بنګړي يې کړل چینې ته ګذار
لیونۍ بیا څه فال په تک زیړ مازدیګر وتاړه؟

جلان خو دومره ضیعف نه دی در قربان جانانه !
پر بخملین نازک بدن باندې دې غر وتاړه

۲۲ مرغومی ۱۳۸۵
غزنی

زه هم مرګونی ژوند کومه د اورونو تر منځ
هغه هم ناسته د څلورو دیوالونو تر منځ

هغوی به څه له رواجونو بغاوت وکوي؟
څوک چې اوسیږي یو محل کې د تربرونو تر منځ

هلته مو ډيرې خاطرې کړې له ډبرو لاندې
هاغه شنه ونه وينې ؟ پورې ددوو غرونو ترمنځ

د ماشومانو په سپېڅلې دعا هم ونه شوه
لرو بې حده فاصله د نصيبونو ترمنځ

جلان جانان سره لري د مينې دغسې راز
لکه اړيکه د ښکلا د ګلابونو ترمنځ

څه فکر کوې چې د ا به چا پسې را وتی وي؟
بو یه دا ساده سړی په تا پسې را وتی وي

زه چې ستا لیدو ته راځم دا دې روا حق ګڼم
ګل چرته پښې کړي چې بورا پسې را وتی وي؟

کاڼي يې د غره له پښو ووزي خو ښکارېږي نه
ښايي چې يو څوک د اور رڼا پسې راوتی وي

تا چې پروني ماښام دربل کړو په معما کې نو
نن به يې ضرور څوک په مانا پسې راوتی وي

دغه ځواني مرګ جلان د کاڼو نبض تل نيسي
خدايزده دا به څه ډول ښکلا پسې راوتی وي؟

۲۵ ليندۍ ۱۳۸۵
شمشاد تلويزيون کابل

ژوند چې د حیا له پولې واوړي ډک له کرکې شي
سپین مرغه چې تور سکاره خوري توري یې بڼکې شي

ستا د بدلون غږ چې مې د زړه په غوږ کې کړنګوهي
ماتې مې د خیال له ماشومانو نه نانځکې شي

ډېر د ويارغمي به زمونږ.متهو باندې وناڅي
ګرانه قافلې که مو د زده کړو راچابکې شي

ستا د اننګو پيځې چې شرم کې لار ورکه کړي
پيغلې زمانې ته وا د زيړو ګلو ځمکې شي

ځار دې شم زلميه !ګلابي پښتو را وسپړه
ژبې چې د ليک له لړۍ ولو ېږي نو ورکې شي

څنګه جلان نه کړي سلامي په دوه لاسي ورته؟
دې سترګو ته شنې ډبرې هم تر ګل نازکې شي

۲۲ کب ۱۳۸۵
غزنی

برند بانه یې د پیچکو ناز ته ناثي
نن یې زړه کوم ګلورین اغاز ته ناثي؟

ستا له رویه به حقیقت لري په پام کې
چې مین دې په ثرخو مجاز ته ناثي

سپين کالئ نجلۍ راګوري خدای دې خير کړي
د سخي صاحب کوتره باز ته ناځي

زه چې ښکته شم د شپې اخري پوړ ته
د ژوند ډمه مې د فکر ساز ته ناځي

د ننګ جلان په خپل شهل بهل خوی پرېږدئ
ليونی د خپلې خولې اواز ته ناځي

۲ غويي ۱۳۸۲
غزنی

ځوان نظریې پر بارخو د مرګ انځور دی
طلایي غشی د ګل په لینده سپور دی

نامحسوس غوندې مې بل دی په اروا کې
یار د ګلو له اوبو راوتی اور دی

چې تنها کې پښې د مالګو په غرو ګرځم
زور دی زور دی د قاتلې مينې زور دی

هی د شپې په شان ته رنګې بنګې پيغلې
دنګ شاعر درپسې پړمخې نسکور دی

نه ! جلانه تر ټټر يې لاس اوږد نکړې
سپينو تيږو کې اوده لمر ته منګور دی

۲۸ غويي ۱۳۸۲
غزني

راشي خو له شرمه ترې خوږه پوښتنه ورکه شي
ته وا په غبار کې د غره شنه لمنه ورکه شي

يار چې د جمال او د جلال په رنګ کې رنګ کړي ځان
مانه د خپل ټپ د روغیدو غوښتنه ورکه شي

داسې مايوسۍ د ژوند په پاڼو کې بې نومه کړم
لکه توره شپه کې چې بې تاره ستنه ورکه شي

ځوانه شاعري مې پر ملاماته شي بې خونده شم
مانه چې هر وخت د يار د مخ کتنه ورکه شي

خوی د شوخۍ پرې نږدې جلانه تاواني به شي
مينه هله سر خوري چې د ګل ويشتنه ورکه شي

۲ زمري ۱۳۸۲
اريوب ځائې خيرمېنه

د پشکال په خپر ګرمي لري باران هم لري
قربان له دا سې يار غضب لري قربان هم لري

که د کافرې ښکلا لاندې لور د مرګ ګرځوي
خيرد ی يو نيم عيب خو سپيڅلی مسلمان هم لري

منم ساده دي دا د غرو شډل بډل وګړي
مګر په پاکو پاکو زړونو کې ګذران هم لري

وژنه يې مه ځوانه ! اخر د انسانيت په خاطر
چې خداى پيدا کړى دى دا به يو ارمان هم لري

ګرانه ! د فکر په ښکاري باندې دې ډير پام کوه
دا سيمې شنې هوسۍ لري ګوره پړانګان هم لري

يو ناڅاپي د مينې زور کې راکړه ورکړه د زړو
جلانه ! دا کار ګټور دى خو تاوان هم لري

٧ زمري ١٣٨٢
غزنی

ما چې غزلیزو انځورونو کې راونیوې
وخت په لوړو لوړو ارزښتونو کې راونیوې

څنګه دې له نازه لوپټه له مخه پورته کړه
باد ځکه په زیړو رخسارونو کې راونیوې

لار ته د راڼه سهار وتل څه اسان کار نه و
ډيرې تورې شپې مو ګریوانونو کې راونیوې

سوال د بڼ ګلونو خدای ته ستا د تم کیدو وکړ
ونو چې د پاڼو په لاسونو کې راونیوې

فال مو وجلانه ! د زیارت مینجاور وکاته
شپې مو د باران اوبه جامونو کې راونیوې

۱۲ زمري ۱۳۸۲
غزنی

لکه ته یو خوږ ارمان رانه چاپېر دی
د زړګي کور مې د شاتو اورکې ګېر دی

یار له خپل ښایسته څو چنده لوړ ګرځي
زورور سیند دی د غرو په سرو تېر دی

د بارخو جام يې عجب خانه خراب کړم
تصور د ازاد ژوند راځنې هېر دی

دا چې ښکلي يې نه خوري ګناه يې خپله
زما زړه خو د اومو شيدو پنېر دی

پر شډل جلان د ښار ښکلا مينه
له نښتره سره زيړ ګلاب کوشېر دی

۱۲ زمري ۱۳۸۲
غزنی

نن يې بيا د انکار غږ څرخي په خوله کې
څه کچه بلا ولاړه د ګل وره کې

چې مو سترګې شوې خوږې پر تا نو خير دی
د سجدې ځای ته کاته کيږي لمانځه کې

د راتلو لار کې چې کرښې درته کاږو
مانا دا نظر کوه چم او کاله کې

چې د ستا د هوس خام وړه پرې پاخه شي
دومره اور لرم د زړه په تناره کې

مرور جلانه !زر ورغاړې نه وزې
څه خودي خو باید وي په پښتانه کې

۲۲ زمري ۱۳۸۲
غزنی

پخه شپه ده خواږه خوب ته شرنګ یم شور یم
د یو ښکلي درد په پانه پانه خور یم

یاره ! دا خو ستا د مینې برکت دی
زمانې ته چې په سلو عیبو تور یم

چې راګوري د لید تار دومره تیره کا
ته وا لرې چرته جګو غرو کې کوریم

نځوم چې په ځرخو د چوپتیا پېغله
د خپل فکر په اوبو ژرنده د اوریم

د نظر زلزلو وخوړم جلانه !
لکه وروست دیوال په مازي زور نسکوریم

۲۰ وری ۱۳۸۲
غزنی

د مخ ځمکه یې نظر پسې اوړي
سره کفري نړۍ په شر پسې اوړي

ددوو سترګو خوږه لار په تا میینه
ځکه ستا د کاله ور پسې اوړي

چې مې عشق کړل جنون ، عقل سکه وروړنه
په اتڼ کې لړ په بر پسې اوړي

د جنګ اور د یوې پیغلې په لاس مړ شو
د تورزن غړ به څه نر پسې اوړي ؟

جلان ستا د مخ پیتاو ته نا ستی غواړي
دلمرګل ګله ! په لمر پسې اوړي

۵ غویی ۱۳۸۲
کابل رشاد ادبی کره کتنه

چې مو سترګې لکه *غلوزې ورپسې دي
اننګي يې د ګبين خوږې چينې دي

بند ورغوی مې د شال لاندې پرانيزه
پکې پټې د غميو زمانې دي

* "غلوزې": د شاتو مچۍ

د غضب د ګذارونو پايله دا شوه
چې ټوټې ټوټې د زړونو دروازې دي

مخ ورواړوه چې ګل تصوير دې واخلي
اينې له ډيرې تندې درکږې دي

اوس نو ګرانه ده چې لاس درڅخه واخلم
ستا د چم خاورې زما په وينو سرې دي

هله زر د مينې ګرمې اوبه ورکړه
د جلان د احساس شونډې مرې سرې دي

۱۲ غويي ۱۳۸۲
کابل

ته وا ګلاب د چینې لاره کې خبرې کوي
هغه چې ځان سره هینداره کې خبرې کوي

د تږي تخم غوندې څوک باران باران یادوي؟
زما د ذهن په شودیاره کې خبرې کوي

دا پښتني ساده باده ښايست يې څومره خوند کا
په خوږ انداز کليمه داره کې خبرې کوي

ملاله ژبه د نظر په اننګو ګرځوي
سره پرښته د ستورو باره کې خبرې کوي

نن دې ګل خوله ورکړه سبا سبا سبا ته پرېږده
جلان عادت دی په تياره کې خبرې کوي.

۲۷ کب ۱۳۸۲
اريوب ځائي خيرمېنه

د زړه کب رانه وړي لکه سپین باز راځي یو څوک
د ورکو ګمانونو په انداز راځي یو څوک

د تږو زړونو ځمکې پسې ښکته پورته کیږي
د رپندو بڼو په عجب ناز راځي یو څوک

د شپې له خاموشۍ د ګل باران غوندې را اوري
د ذهن په کوڅو کې لکه ساز راځي يو څوک

مخ اړوم را اړوم نه ښکاري خو ډېر خوږ
په مړه قدم د زړونو په اواز راځي يو څوک

د شنه ښايست د پاڼو پاڼو اوښکو په موسکا کې
جلان غواړي د ګل په جينماز راځي يو څوک

٧ سلواغه ١٣٨٦
کابل د نوا راډيو

څه مې پوښتې ګرانې ! پرېږده پرېږده څه مانا څنې ؟
شپې مې له ورغوو نه ښویږي لکه ستا څنې

ګرمې نه دي سترګې دې چې زما سترګو ته نه ګوري
پېغلې د پاخه عمر خو اړوي تر شا څنې

ځار دې شم د مخ رڼه *چرګۍ دې شال کې پټه کړه
ډکې دي له خاورو له ګردونو نه زما ځنې

څه به ټکوم سر د پیمخو بې لوظۍ ځنې
اوري د ډول غږ ته په اتڼ کې هرې خوا څنې

څه مانا جلانه د غزل مقطع کې دا تصویر؟
توره شپه لمدې په اوږو خلاصې د لیلا څنې

۱۰ کب ۱۳۸۲
کابل نوا راډیو

*چرګۍ: دناستې د کوټې بره خوا

راګوري، نه راځي پخپل کړي سوګند ولاړ دی
لکه ګلاب د خپل وجود کړۍ کې بند ولاړ دی

له جنتي ګلبڼ راوتې ننداره ده دغه؟
که يې پر مخ باندې له شرمه سپين مړوند ولاړ دی

هغه مانښام هغه باران هغه ننښتې شونډې
هاغه تصوير مې او س هم ذهن کې ځرګند ولاړ دی

د خپل کرم د ساړه سيوري لاس راوغزوه
د يو ارمان غرمه غرمه لمر ته مې ژوند ولاړ دی

لکه غاټول په يوه پښه په پخه شپه کې جلان
سوال او زاری کا ، خدای ته خاص ستا په اړوند ولاړ دی

۲۸ غبرګولی ۱۳۸۷
کابل نوا راډيو

زه او یار چې یو وجود شو د عشق تل شو
د کیف اور شو د ځوانۍ ډیوه کې بل شو

چې سرونه دیو بل پر اوږو کېږدو
ته وا لمر اوغر تکیه په یو او بل شو

طبیعت پر مونږ عجبې کانې کاندي
کله غشي کله دوې پانې د ګل شو

چې له ټول بدن نه سترګو ته راټول شو
دا وخت دوه شهکار بیتونه د غزل شو

خدای دې دا سې شیبې راولي جلانه !
چې د نوک اوری په شانې سره خپل شو

۱۹وري ۱۳۸۷
کابل نوا راډیو

اوس مې لاس څه د هغې په اوږو اوړي؟
اوس يې څڼې دي اوږدې په اوږو اوړي

د عشق زور دې ژبه تيره کړي په شونډو
سره غرمه د سرې غرمې په اوږو اوړي

په ژوند څه باور دی راشه ګورې نه چې
ورځې شپې د زمانې په اوږو اوړي

سور سالو يې په ځوانۍ سيلۍ ته رپي
سرې لمبې د شنې درې په اوږو اوړي

د ښکلا په زور دې څه په جلان وکړل ؟
ميکدې ته د سجدې په اوږو اوړي

بس دی فکرونه د شډل بډل اوربل نه کوم
دخپل غزل د شالید لاړو کې مزل نه کوم

ما که څوک غواړي په کوم ګوټ کې به یوازې ناست وم
زه د ډیوې غوندې رڼا په کوم محفل نه کوم

زه څه خبر وم؟ چې مزاج پرې د جانان خوږېږي
ما دې داخل وبښي بیا په ګل ویشتل نه کوم

لکه ابشار د شور په ګام ځمه له یاره سره
لکه د څاه او به ژوند نور د څاه په تل نه کوم

جلانه ! اوس د ژوند سړو تودو بلا وښیار کړم
اور ته کتل کوم خو اور ته اوښتل نه کوم

۶ وږي ۱۳۸۷
کابل د نوا راډیو

څه عجیبه ده څومره زر د سړي زړه پرې کوي
دغه ساده ساده نظر د سړي زړه پرې کوي

ناز د موسکا د ګل په لاس کې ګرځوي زړه پسې
پیمخي داسې په هنر د سړي زړه پرې کوي

دا تورې څڼې او دا ځوانه کليواله ښکلا
هر ماز ديګر هر مازديګر د سړي زړه پرې کوي

اوس مې هوس هم د باور په قدم نه ورولي
ځکه باور هم ناخبر د سړي زړه پرې کوي

جلانه ! ته خو داوږدو ښو خبرې کوې
دغه چړې دغه خنجرد سړي زړه پرې کوي

۱۹ لړم ۱۳۸۷
کابل نوا راډيو

نظر مې نه پریوزي د خپل منزل هینداره باندې
څه نا امیده یم روان د ژوند په لاره باندې

بده یې مه ګڼه ښکلا ته که د راوړي سترګې
د غرو وګړي لګوي ډډې په باره باندې

اوس یې د نجونو په اتڼ کې د غږ شرنګ نه وځي
خدایزده څه چل شوی مېینه سندرماره باندې؟

پرېږده چې زړونو د جذبو لاندې ټوټې ټوټې کړو
پرېږده چې ځوان هوس ښه موړ کړو په مرداره باندې

دغه غرمه دغه سوړ سیوری دا مکاره نجلۍ
جلانه ! واړولې خدای ښه په تیاره باندې

۲۱ لړم ۱۳۸۷
کابل نوا راډیو

پوښته مې مه چې څنګه ټيټې سترګې شلم ولاړ يم
د خپل وجدان په محکمه کې درته ګرم ولاړ يم

د لمرين مخ شغلې را واړوه ژوندون مې وا خله
په زيړه پاڼه د خپل تن لکه شبنم ولاړ يم

پام د سپیڅلي احساس لاس دې پرما وا نچوې
ضعیف انسان یم د هوس په جهنم ولاړ یم

په ښاري ژوند کې مې د غرونو سړی ونه ګڼې
اوس نه په لوظ نه په وعده نه په قسم ولاړ یم

جلان د ستا د هیلو ستا د ارمانونو قاتل
مدام د ستا د خوښۍ مخ ته لکه غم ولاړ یم

۱۲ مرغومي ۱۳۸۷
کابل نوا راډیو

خلک بر لاړ شي سفر ووهي د مه يې وشي
پښتون چې يو بل نه سر ووهي د مه يې وشي

دوی د ګل سيوريو کې د ميني ژوند ته زړه تنګيږي
دوی چې خپل ځان په خنجر ووهي د مه يې وشي

زما گلاب گلاب جانان لري هم ښکلی عادت
چې مالگین لاس په پرهر ووهې دمه یې وشي

اوس ددې چم وگړي ټول لکه بانه د اشنا
کله چې شر ته نظر ووهي دمه یې وشي

ای گل وجود ساقي ! په دوو غوړپونو نه مړېږي
جلان چې ښه ډک ساغر ووهي دمه یې وشي

۳ کب ۱۳۸۷
کابل نوا راډیو

ثه پیکه ژوند دی له پیکه ژونده وزګار نه شومه
لکه بې مخه تیږه هیڅ د چا په کار نه شومه

زه چې هر ګام ږدم نو سکروټې را خوټېږي مخ ته
زه چیرې سم د ګلابونو په دیار نه شومه

لکه غبار یې تل ترشا روان په پل پسې یم
لکه هینداره مخامخ مخ ته د یار نه شومه

په دې خفه یم چې مې څوک په اوږو وړي نه دي
خو په دې خوښ یم چې د چا په اوږو بار نه شومه

له دې نه ستره بې ننګي جلانه بله څه وي؟
هغه له ما نه ځار شوه زه له هغې ځار نه شومه

۲۵ غویي ۱۳۸۸
کابل نوا راډیو

ځم چې جوړه يې کړم بيا د زړه هينداره
رانه ماته د يو چا د زړه هينداره

کوم تصوير پکې د يار تبې اخيستې؟
نن مې بيا ده په درزا د زړه هينداره

که دې شپې رڼا کوې را سره مل شه
اوس مې ښه کاندې رڼا د زړه هینداره

دا سړی منم ډیر ښکلی له خیرې نه
خو یې ډکه له ریا د زړه هینداره

د لفظونو پس منظر مې لوند په اوښکو
ما مینځلې په ژړا د زړه هینداره

د کینې غبار الوتی دی جلانه !
ترینه وساته صفا د زړه هینداره

۱ چنګاښ ۱۳۸۸
کابل نوا راډیو

هله مرمه زړه مې چوي ګرانې راشه
بيا دردونه شول رانوي ګرانې راشه

وربې ژبې د حالاتو رانه تاو دي
خوشالي مې له ژوند روي ګرانې راشه

په پلو کې د اور مخو ارمانو مې
زلمکي احساسات سوي ګرانې راشه

دومره څوک نشته چې سترګې یې راواوړي
دلته ټول دي ځان پلوي ګرانې راشه

ستا د عشق ډېرین کار کې د جلان شول
په تنها کو سپین ورغوي ګرانې راشه

۱۰ زمري ۱۳۸۸
کابل نوا راډیو

زه چې په شعر کې د خوارۍ اشنا له خولې غږېږم
ته وا ورېمه یم د ګلاب له دریڅې غږېږم

هغې راوکتل او بیرته یې مخ واړولو
یو څو شیبې په دې اوښتې زمانې غږېږم

دوی به هم سوی وي زما غوندې په عشق کې د چا
له تورو کاڼو سره ډېر ګرانې په دې غږېږم

په ژوند کې ډېرې خوا وې شته چې هنري شي مګر
زما خوښېږي د طبیعت په منظرې غږېږم

په کومه ورځ چې جلان مخ د جانان ونه وینم
باور کوې په هغه شپه خوب کې د شپې غږېږم

**۵** زمری ۱۳۸۸
کابل نوا راډیو

صبر کوم خو نه صبریږي وایه څنګه وکړم؟
زړه مې په تا پسې خوږیږي وایه څنګه وکړم؟

مجبوري بده ده خو بیا د محبت مجبوري
په خدای که هیڅ څه چاره کیږي وایه څنګه وکړم؟

ترپخو شپو د درد ډیوې په اوښکو بلې ساتم
لوغړن ژوند دی بس تیریږي وایه څنګه وکړم؟

ستا مینه ناکه خندا ستا خوږې خوږې خبرې
په زړه مې ډیرې راوریږي وایه څنګه وکړم؟

ما خو په زور په تا زړه نه بیلو جلا نه ګله !
مینه ده خپله پیدا کیږي وایه څنګه وکړم؟

شپه ده پخه په سپیڅلتوب خبرې ډیرې کوو
نه په خوب نه ، په مینتوب خبرې ډیرې کوو

د زلمیتوب او پیغلتوب جګړه خوږه جګړه ده
په زلمیتوب په پیغلتوب خبرې ډیرې کوو

پرېږده چې نن او به او به کړو جل وهلې جذبې
سرېتوب وژنو لیونتوب خبرې ډېرې کوو

اوس چې خبره د ښکلا شوله جلانه یاره !
نو راته غوږ شه په آریوب خبرې ډېرې کوو

اریوب ځائي خیرمېنه

باد دې په څڼو کې څو سپين ويښتان راوبرېښول
ما اوريدلي وو د کال په پای کې شپه زړېږي

ستا د موسکا په جادوګرو تصويرو پسې مې
وريښمينه ياره ! د زړه ځوانه ايينه زړېږي

اوس چې مې مینې ته درانه نه ګورې ګرم هم نه یې
دا زه منم له تن نه لوېږي چې جامه زړېږي

ددې پیکه پیکه غبار غبار شیبو په سبب
خدایه ! له زانګو هم د واورو ترانه زړېږي

په تخیل یې د نوښت زریني څرېکې کره
ستا له جلا ن نه د سندرو زمانه زړېږي

۱۳۸۴
لوګر سنځل ګل مشاعره

چې غصه شي عجبه شي داسې سره شي
ته وا مالګه په تت اور باندې پخه شي

ستا د نوم د پاکو تورو بلا واخلم
چې پر شونډو مې موسکي شي زمزمه شي

د فطرت لښتي يې ډک شي له خماره
د نظر چينه چې سره شي ميکده شي

انتقام به د خپل مات زړه ترې نه وا خلم
که راګيره مې په غېږ کې زمانه شي

په اوبو دې د خپل خوی دی لمبولی
ستا تصوير هم کله اور کله نغمه شي

تخيل مې خوله کړي ډکه له سندرو
چې وږمې د ګل ښايست ته نذرانه شي

چې تصویر دې د خوبونو راپیدا کړم
د سپرلیو ایینې به راپخلا کړم

هله زر شه غنم رنګه موسکا وکړه
چې د ګوړو په اوبو کې دې رڼا کړم

د یاغي سرور له پښو به غېږه تاو کړې
چې د زړه کوڅې دې واړه په درزا کړم

خاموشي به ورته شنه شي له خندا نه
زمانې چې په نڅا کې په خندا کړم

د سکروټو جام به جوړ کړم له جلانه نه
که نازونه جګ برجونه د ښکلا کړم

مه مې وړه د غشو په سلیو کې
ساه یم د ژوند بلو ډیوګیو کې

ته د انقلاب له دستور څه خبر؟
زور دی په وړو وړو خولګیو کې

ځار د غرو د نجونو له ياغي رواج
پېغله لمبوي په پنځلسيو کې

ګرم نه يم که مرګ د اننګو دې شوم
مست وي سيلابونه په جړيو کې

لاس به د جلان تر ستورو ورسي
پورته شو د مينې په پوړيو کې

ژوند ژوند اننګو نه يې اوربښت د ګلابونو دی
دا د ښکلا ذات کې لوی نوښت د ګلابونو دی

دا دنیا پنه زمونږ د عشق د ګل زرینې پښې
زه د وړانګو غر جانان مې دښت د ګلابونو دی

کېنه چې سکوت د تیارو مات کړو په درزا د زړو
شپه به په دې پوی کړو چې جوړښت د ګلابونو دی

تتې مو خبرې شوې لیمو کې د جذبو دراز
خدایه ! په دې ځوان وخت کې زړښت د ګلابونو دی

ستا د نوم له تورو یې ډیوې د غزل جوړې کړې
ستا شاعر جلان پوی په ارزښت د ګلابونو دی

حالات به خپل کړم په هنر هنر به غر مات کړم
تور کاڼي لولم چې غرور دې د نظر مات کړم

تا که خبرو کې اوبه د ګوړو ګډې نکړې
زه به پخپلو پرهارونو کې خنجر مات کړم

اوس خو ماشوم یم ته دعا کوه که وخت مې یارشو
په دې چاچیو به د لوړو زورور مات کړم

بیا به ځوانۍ ته لمبه ورکړم د نکریزو بوی کې
چې روژه دار نیت د لونګو په اختر مات کړم

دغه جلان دې اوس په دې خبرو کلک ولاړ چې
یا به جانان د مټ ځونډۍ کړم یا به سر مات کړم.

۲۵ وري ۱۳۸۵
کابل نوې کارته

په قدم قدم روان یمه درګورم
ستا د ستړي وخت جانان یمه درګورم

په لیمو کې دې ښایست د یو چا لولم
یو سپیڅلی مسلمان یمه درګورم

د نظر لمبې دې مړې مه شه جانانه !
توره شپه ده بیابان یمه درګورم

د فطرت د چینې غاړې ته دې ناست یم
یوه تانده یو ارمان یمه درګورم

که انکار دې د انګار د مانۍ برج شي
ستا جلان یم ستا جلان یمه درګورم

۳۰ غبرګولی ۱۳۸۵
کابل شمشاد تلویزیون

له ارمانونو ډک زړه بيرته درنه تلو کې وړمه
لکه زخمي ورور مې په شا په جګو غرو کې وړمه

ته چې زما په ليدو اور اور د غضب شوې ګرانې
همدا تصوير درنه اوبو اوبو ليمو کې وړمه

زه یو مین یم یو ساده مین د خاورو نقشه
زه خو جانان نه یم چې زړونه په بڼو کې وړمه

د ښار جانان دی خدا یزده وبه یې مني اوکنه؟
دغرو میوې ورته په شنو سرو دسمالو کې وړمه

جلانه ! مخ دځمکې تکه سره تبې شو راته
تناکې پښې د سرو دردونو په پڼو کې وړمه

۱۲ غبرگولی ۱۳۸۳
کابل کلاچه

صبر کوه صبر کوه لیونۍ وس نلرم
پیل په روپۍ دی خو دا زه د روپۍ وس نلرم

تا څنګه ولمانځم ؟ حالاتو په اورزېږې رسۍ
کلک یم تړلی د خوږې ازادۍ وس نلرم

هغه غر ګورم چې پنا یې ترې تا نشم لیدای
بام ته ختی شم خو د سپینې سپوږمۍ وس نلرم

هیله ده اوس به مې شاعر زړه په ډیر څۀ ومنې
اوس زه له دې پرته د بلې ډالۍ وس نلرم

د مرګ برجونو ته پنا وړمه جلا نه یاره !
نور د خړلي درد د سرې زندګۍ وس نلرم

۵ مرغومی ۱۳۸۳
کابل افغان ادبي بهیر

نور به په زړه غر اړوم غر دې په زړه واړوه
بس بيوسي ده اشنا مينه دې له غره واړوه

سختې سيلۍ کې او په شړک باران کې بله ډيوه
جانانه نشې وړی خپل ژوند ته دې مخ ښه واړوه

په بخملینه خوله زما نوم ته ځای مه ورکوه
دا طلایي چینه د سره اور له کاله واړوه

د سترګو راز د چا سړې موسکا کې ونه تړې
د میني جنګ نه دې خوارږه بانه واړوه

د سره شکست له ویرې اوس هم خوب کې وبګنیږي
څه مړې ایرې دې د جلان په ګریوانه واړوه

۱۲ تله ۱۳۸۳
کابل

لمر چې مازدیګر کې ګلدرې په ښکلا ومینځي
داسې به یو څوک مونږ هم د خولې په ښکلا ومینځي

مسکه شي په شونډو کې بیا خپلې کیسې وژوبې
ته وا څوک راتلونکې زمانې په ښکلا ومینځي

نه غواړم زړګیه د ګلونو دنیا نه غواړم
پربږده چې جانان مې د لمبې په ښکلا ومینځي

غواړو د دې ښار خاوند نه تور زړونه دې سپین کاندي
نه شته ضرورت چې اینې په ښکلا ومینځي



واه واه په ګلدارې شړۍ پټ شډل جلان راغی
اوس به اتڼیزې تماشې په ښکلا ومینځي

۱ غبرګولی ۱۳۸۴
اریوب ځائې خیر مېنه

تکه سپینه خوله چې په اور مخې غصې غټه شي
لکه ایینه چې په سرو شنو مریو پټه شي

تاو مې کړه له غاړې غبرګ لاسونه ځوانې مرګه شې
پریږده چې ژوند اور واخلي شیبه شیبه سکروټه شي

بویه رسیدلی د بریا تر لوړې څوکې وي
چا ته چې ګلاب ګلاب د یار د کوڅې خته شي

غر د شنو سندرو شي شاعر چې بې جانانه شي
لویه بایه وکړي خو په بایه کې یې ګټه شي



هغه وخت سپینچکه ! ستا جلان تا پسې ډېر ژاړي
ډکه چې پوره د خاموشۍ نه د شپې څټه شي

۱۳ غبرګولی ۱۳۸۴
لره پښتونخوا کوهاټ کمکول شریف دوهم کیمپ

مینه مې توده چینه په شونډو د سلګیو شي
تا پسې مرم لمر چې ویش د ورځې په کړیو شي

یاد دې راته راوړي د ماضي خوږې شیبې
شور چې په شنو ونو کې د سرو شنو مرغکیو شي

ناز چې له ښو لاندې شي ناز چې لمبې واغوندې
دې وخت کې ښايست ته زمانه هم په زاريو شي

خدای نه دې جانانه ! په خدای داسې وخت کې غواړم چې
غوږې اتڼيزې څڼې ول ول په شړيو شي



بيا به ترې جلانه ښه ځولۍ ډکه له ميني کړې
زړونه چې لمبې لمبې شي وخت چې د خولګيو شي

۱۵ وري ۱۳۸۴
اريوب ځائي خيرمېنه

خدایزده چې یارمې تندی څنګه داسې تور نیولی ؟
نن ګل لمن کې عجیبه شین بخن اور نیولی

د زنګولي قدم غږ دې بختور شه نجلې !
ما په لاسو کې ورته ډک د میوې شکور نیولی

مونږه د مینې ، انسانیت له مخې څه نه وایو
ګنې جوس له پښتنو نه چا په زور نیولی؟

که مې اواز وي له ژړا سره ملګری څه باک؟
خپل ماشوم وروریې دی له لاسه خپلې خور نیولی

د زمانو د رواجونو موردې بوره کړې
جلانه ! تا چې د جانان کلي کې کور نیولی

۱۸ تله ۱۳۸۵
کابل شاه شهید

لکه خپل نوم لويدلی ستا د خولې له بامه يمه
ځکه ناهيلی د ژوندون له هره ګامه يمه

وشوې مودې د خپل زړګي د محبت جومات کې
د درد لمانځه کې بې جانانه بې امامه يمه

ژوند لکه شین فصل ریبي خو ماتې نه قبلوي
پام کوه دنګه ! زه یو څوک له هغه قامه یمه

څه مې پوښتې ګرانې ! چې شعر څه وي شاعر څنګه شوې؟
ډېر متاثر د تورو څڼو له ماښامه یمه

جلانه اوس مې د لاس سور د سمال ښکاره ګرځوه
اوس په همزولو کې دا ستا په نوم بدنامه یمه

۲۳ تله ۱۳۸۵
اریوب ځاځي خیر مېنه

ګرانې ! پر نازک مخ لږ د مینې زرورک ساته
دا طلا یې جام په ګلاب رنګو اوبو ډک ساته

خوله چې د زړه مینځې پر باور ډېره تکیه مه کړه
دلته خو په یخو اوبو هم د انګار شک ساته

ته چې وې نو سترګې مو لمنې د خوښیو وي
دا کوڅې ابادې د لمدو څڼو پر شرک ساته

دا ګونګ دیوالونه هم ژباړي راز زمانو لره
دلته چې راځې غوږونه څک ځان دې چټک ساته

هاغو غرونو منځ کې یو چا ویل جلان ته ووایه
وه ظالمه ! زړه کې د زړې مینې هم څرک ساته

۳۰ لړم ۱۳۸۵
د شمشاد تیلویزیون کابل

له وږیو سترګو نه څه وېره ښه ده
سره لوپټه د رنه چا پېره ښه ده

ځولۍ ځولۍ مې شه لمن ته تویه
نوره د شرم کیسه هېره ښه ده

چې په خندا شي لا په زړه پورې شي
دا نړیوالې ژبه ډېره ښه ده

چې په رګ رګ کې مې ښایست پلی شي
د زړګي تل تل ته راتېره ښه ده

جلانه خامه خوله ده ویې نازوه
له سرې پخې مانۍ شنه ببره ښه ده

۱۲ الیندۍ ۱۳۸۵
د شمشاد تیلویزیون کابل

چې قدمونه دې شول ښکلي قاتلان د زړونو
ضمير مې ولړزيده اند مې تبه واخيستله

ګراني چې شونډې دې د مينې په لفظ ونښتې
د دې ګلابو له پيوند مې تبه واخيستله

ښکلیه ! څه رحم په کافر زړه کې لرې اوکنه؟
غیرې کې مې نیسه په خدای ژوند مې تبه واخیستله

چې له احساسه مې شو لاندې ستا ګل څانګی نظر
له دې بالښت له دې مړوند مې تبه واخیستله

خدایزده چې بیا دکو مې ماتې سیوری وشو پرما؟
جلانه ګله ! بند په بند مې تبه واخیستله

۱۵ تله ۱۳۸۳
کابل شمشاد تلویزیون

څه په زړه پورې خوږې لارې
ګلونو وکړې پر هیندارې لارې

مینې ترې ژوبل کړو نازک پېغلتوب
سترګو یې خوښې کړې خمارې لارې

خدایه ! طبیب پرې د باران راوله
پسې د ګلو شوې بیمارې لارې

د سره غرور لاندې مو وژنه جانه !
وې په شو دیارو کې هوارې لارې

د جلان زړه ته نیغ په نیغه لاړې
ستا د ټټر کلیمدارې لارې

۲۸ مرغومی ۱۳۸۵
غزنی

د هیواد پیاوړي او نازک خیال شاعر پیر محمد کاروان ته !

په دښته د هینداروو شوه ځپه د ګل غزلو
د وخت په مخ لمنه شوه را شنه د ګل غزلو

د روح له اننګو نه د جلوو په پستو شونډو
مچکې اخلي اوس بله ډیوه د ګل غزلو

موږ زړونه در ته ایښي د لیمو پر پستو پیڅو
ته کېږده پرې جانانه پسته پښه د ګل غزلو

امیل چې شي زمونږه د مین احساس د غاړې
نن راوړه ګلابي ساقي پیاله د ګل غزلو

جلانه ! د خوارږه او نازک خیال کاروان په غېږ کې
یو تود غوندې اتڼ وي هره شپه د ګل غزلو

۱۷ لیندی ۱۳۸۰
آریوب ځاځي

دروغ ده تمه د درنښت چې له کومه سپکه کیږي
دګلو فصل چیرې هم د اور په ځمکه کیږي؟

چې انسانیت کوم له چا سره همه مې وژني
له انسانیت نه مې په دغه وجه کرکه کیږي

چې غل مالک شې او کور به شي په مثال د ړانده
نو طبعي ده چې له دغه کور به ورکه کیږي

چې د ړې وړې کاندي زړونه باورونه سره
مینه کې بې له شکه دغه کار له شکه کیږی

ترینه چاپیرې دي چلبازې زمانې ولاړې
پر جلان ځکه اوس کانې لکه نانځکه کیږي

۱۷ تله ۱۳۸۹
کابل نوا راډیو

انګار غر وم خو پوی نشمه په څه شم؟
چې په څڼو يې لاس تير کړمه او به شم

زما او ستا ترمنځ څه ګرانه پخلاينه؟
لږه ته را ښه شه لږ به زه در ښه شم

په هینداره د خندا چې یې ځان وکسم
سپین ګلاب راشین په غاړه د ویاله شم

خلک اور نه امان غواړي خو زه غواړم
چې برغولی ستاد کور د تناره شم

کاش له یو او بل کړو لار د وتو ورکه
کاش جلانه ! چې ته زه شې او زه ته شم

۹ لیندۍ ۱۳۸۸
کابل نوا راډیو

نن چې ښکلی ګنهګار شم رانږدې شه
مخ راوړندې کړه در ځار شم رانږدې شه

دا چې ته د خپل کرم په قدم راغلې
زه به پښو کې درته لار شم رانږدې شه

ای راځه لکه همزولي ګلا بو نه
ته پرما زه په تا بارشم رانږدې شه

د فطرت دی دا خواهش چې ته باران شې
او زه تږی لاله زار شم رانږدې شه

ټوله ستا یم دومره صبر شه جلانه !
چې خمار کې انتظار شم رانږدې شه

۲۹ تله ۱۳۸۸
کابل نوا راډیو

شاعري څومره خوږه يې تا په څومره خلکو ګران کړم
تا په زړونو کې ميشته کړم تا په زړونو کې ودان کړم

څوک په ما پسې ژړېږي او په چا پسې زه ژاړم
څوک دې ما پسې باران کړل چا پسې دې زه باران کړم

تا په ځان باندې مين کړم تا انسان باندې مين کړم
تا انسان راته روښان کړو تا انسان ته ور روښان کړم

تا په ډېرو ژبو پوی کړم د رنګينو کايناتو
تا د راز او ناز رڼا کړم تا نګين د سليمان کړم

در قربان شم د رنه ځارشم څه عجب ژوند ته دې يوړم
که د ډېرو دې دښمن کړم خو د ډېرو دې جانان کړم

يوه ساده باده جلان وم يو نوم ورکی شان انسان وم
تا سندره تا هنر کړم مشهور دې په جهان کړم

۲۲ چنګاښ ۱۳۸۹
کابل نوا راډيو

منم چې ژوند به وي خو ژوند چې محبت نلري
لکه کوم کور چې دیوالونه لري چت نلري

بویه هغه د ګډوډۍ په ګردابونو کې ډوب
څوک چې په خپل ځان د خپل فکر امامت نلري

نور چې له هر پلوه وینې ایینه ده جانان
بدرنګ یې مه کړې یو وعده کې دیانت نلري

ښوونځي سوزي انسان وژني مګر دا وکړي
اوس هم په دې اند دي چې ګواکې جهالت نلري

شکر جلانه چې په ډله کې د هغو نه یم
چې خروارونه زر لري مګر عزت نلري

۱۳ تله ۱۳۸۸
کابل نوا راډیو

لکه باران مې په زړه خوږ خوږ اوریدلې راغلې
عمردې ډیر دی همدا اوس مې یادولې راغلې

په هر قدم په هرې خوا کې ته وې ته وې ته وې
نن مې کړې ورځ سترګو سترګو ته کیدلې راغلې

زه، خفګان، اوښکې، شوګير ټول به شوو راټول په شپه کې
تر رونې سهاره به مو شمعې بلولې راغلې

قدم دې ونيسه چې دود کړم ګلابونه درته
ګرانه په ژوند کې مې همدغه شيبې ښکلې راغلې

جلانه ! تا خو د انکار بندونه ډير وتړل
څنګه ده ؟ خدای چې مې په ګوتو راکولې راغلې

۲ وږی ۱۳۸۵
آريوب ځائي خيرمېنه

دا چې د زړونو خوږو لارو کې مو شک ولاړ دی
زما او ستا تر منځ یو څوک لکه اټک ولاړ دی

خدایه ! پرده مې د جانان د تورو څڼو وکړه
د ټیکري شاته یې د مرګ غوندې ټوپک ولاړ دی

سيمه مو لړزنده په وينو د وګړو ځکه
د قوم پر سر مو د ليوه غوندې ملک ولاړ دی

دادې واکمن دی په ښکلا د خودبينۍ جمهوريت؟
که د شليدلي پاڼ په سر ماشوم هلک ولاړ دی؟

جلانه ! څه چې د قاتل رواج ادې بوره کړو
ښه توره شپه ده د کور شاته اس چابک ولاړ دی

۱۲ سلواغه ۱۳۸۵
اريوب ځائي خيرمېنه

ستا جلان چې څومره مست دی څومره لوړ دی
دومره تا پسې نسکور تا پسې مړ دی

ته چې نه وې زما طبیعت هم داسې بویه
لکه نن دې چې پیغلو کې ! اوربل جړ دی

ځه دي ښنبلي پرې د کوډو په کاسو کې ؟
دا سړی په هر چا بر یو تاته پړ دی

په خوارږه باران یې مینځه لو یه خدایه !
هر یو ګل په زهرجن لوګی ککړ دی.

د ښکلا په شرنګ یې مخ په بره خوا کړه
د جلان د شعر نیلی روان په ځوړ دی

۲۷ چنګاښ ۱۳۸۸
نوا راډیو کابل

لکه زه او لکه ته دي دا وګړي
مه يې وژنه پښتانه دي دا وګړي

ستا د غم ستا د خوښۍ پرده پرې کېږي
ستا د چم ستا د کاله دي دا وګړي

منم سپک او ورک د وخت او بخت سیلۍ کړل
خو له اصله ډېر درانه دي دا وګړي

یو یشتمې پېړۍ هم را بیدار نکړل
څه د پیل غوږ کې اوده دي دا وګړي

خړ څادر نیغه شمله د دوی سمبول دی
ډیر ساده دي خو ډېر ښه دي دا وګړي

په خوږو ترخو حالاتو کې جلانه !
هم اومه دي هم پاخه دي دا وګړي

۱۴ سلواغه ۱۳۸۷
کابل نوا راډیو

ستا چې د کړو بڼو قوت له منځه لاړلو
وا ه د دیکتاتور پاچا دولت له منځه لاړلو

نن چې مې څادرپسې دګل په ځای ازغي ننبلي
بویه چې سپیڅلی محبت له منځه لاړلو

خوله کې يې د نرمو اننګيو پيڅې راکړلې
ځکه مې غزل کې بغاوت له منځه لاړلو

تا چې د سکروټو د سيلۍ پلو راواړاوه
ګرانې زما د هيلو د کور چت له منځه لاړلو

سره شوه له غصې خو ناڅاپي غبږ ته راولويده
جوړ شو قيامت خو قيامت له منځه لاړلو

۱۰ وري ۱۳۸۲
غزنی

پرېږده تر رونې سهار ه واورم جاننه خبرې
زه به دې سر په ځنګون کېږدم ته کوه خبرې

پوهېږې ګرانې ! بې له تا یوازیتوب داسې و
ما به له ځان سره کولې کړې شپه خبرې

د څڼو لاندې د بنګړیو غلې غلې شرنګا
څه اهنګینه صحنه څو مره عجبه خبرې

زه یې په ټوله مینه کښمه انځورونه ګلې !
ته د ګلونو له رنګونو جوړوه خبرې

که خدای ژوند راکړ نو جلانه د پښتو لپاره
پوره لرم یوه سندریزه زمانه خبرې

۲۲تله ۱۳۸۹
کابل نوا راډیو

د رڼا لاس کې خوړلي د شپو زنګ یو
زه، ماښام د یو او بل په رنګ کې رنګ یو

د تتر په ګل ځونډ یو کې مو پښیه
په نکریزو کې پرا ته لانده لونګ یو

خوراو لور مکتب ته نه پریږدو چې عیب دی
پښتانه یو کلک ولاړ په داسې ننګ یو

خیر که زه او نظر تم دې پر جبین شو
بو یه تږي لاروي په چینه رنګ یو



د جلان د غزلیز فکر ډیوې یو
چې سرلاري د ګلاب ګلاب غورځنګ یو

اوبه اوبه ښایست چې مات مات کاندي خپل وجود کې
نو طبیعي ده چې تاثیر پیدا کړي بل وجود کې

ستا د ښکلا د یوې زرې حصې ته نه رسیږي
ما که هر څومره مطالعه وکړه د ګل وجود کې

ته چې له شرمه شوې خوله خوله په هغه مهال
میرېې میرېې مې له پښو سر ته راختل وجود کې

زه د جانان د خوبه وړو نازو څه ووایم ؟
بس خو ځونډې دې دلونګو د بخمل وجود کې



تاد جلان دا نوې نوې شاعري لوستې ده؟
کښلې یې ستا انځور د هر یوه غزل وجود کې

۲۲ کب ۱۳۸۷
کابل نوا راډیو

نن ښه په ښکاره د ښکلا ښکار کوم تا غواړمه
تا سره د مینې یو ښندار کوم تا غواړمه

زه د خپل زړګي د شنه پټي په برید ولاړ یمه
څار کوم ستا ګل زړګي ته لار کوم تا غواړم

لکه د باران اوبه له بامه په راڅوړند تار
ژوند داسې داوښکو په سینګار کوم تا غواړمه

ستا په خاطر تیرېږي ماتوم د غره تمامه ورځ
تاته چې لونګ راوړمه کارکوم تا غواړمه

نن مې د جلان د شنه غزل شرنګا اغوستې ده
نن په تا یو خوږ هنري وار کوم تا غواړمه

۲ سلواغه ۱۳۸۲
کابل نوا راډیو

زما او ستا منځ کې مدام داسې وبال ولاړ وي
لکه د شنو ونو په منځ کې چې دیوال ولاړ وي

له دې نه ستره خوندوره ننداره به څه وي؟
زما چې سر در ته نسکور وي ستا جمال ولاړ وي

د تصور په اینو کله څه داسې وینم
د اوړي شپه، ډنډ ډنډ خولې وي او شمال ولاړ وي

ډېرې معصومې او ساده خبرې مه کاروه
زمونږ په سترګو کې مدام یو پشکال ولاړ وي

د کور دیوال ته یې خاموش داسې ولاړ یمه زه
لکه تصویر حیران په پای کې د سریال ولاړ وي

مینې دې داسې خوږې چارې پر جلان وکړې چې
ستا د یاد اور ته یې مدام غزلیز خیال ولاړ وي

۹ لیندی ۱۳۸۵
شمشاد تیلویزیون کابل

سترګي راواړوي له سترګو مې ستونه غواړي
ته وا د غره پیغلې له ښاره کتابونه غواړي

شاعر زړګی مې د یو روڼ نوښت په تمه ناست دی
نن په هیندارو د ګلونو قدمونه غواړي

خير که پيمخي يادوو د ځوانۍ دور مو دی
خلک د اوړي په ګرمۍ کې بارانونه غواړي

ملګرو پاڅئ دغو سيمو ته رڼا نه پرېږدي
دغه تيارې د لمر د غشو ګذارونه غواړي

لکه ماشوم دغه جلان چې *اوتري پوتري کيږي
دلو پټې لاندې خندا غواړي نازونه غواړي

۳۰ لړم ۱۳۸۷
کابل نوا راډيو

*دماشوم د زاريو حالت

شپه بې له یاره ده په خوب نه، په بیداره ښه ده
د درد ډیوه بله د زړه د رنځ د پاره ښه ده

داسې هم مه کوه چې هیڅ د نظر ست نه کوې
ګرانې ! د ګڼو ګلو منځ کې هم څه لاره ښه ده

سپی زمانه د ښکلا تاندې غوښې خوري محبوبې !
ستا د تټر پر دروازه کلیمداره ښه ده

جانانه ! نن مې د زړګي* بهیر کې لږ خو کېنه
دغه جونګړه د شاهانو له درباره ښه ده

جلانه ! څه ګناه ګناه وایې په لاس درغله
د ماهي غوښه ده حلاله نه ، مرداره ښه ده

۱۰ وري ۱۳۸۲
غزنی

* افغان ادبي بهیر

ژوند لکه ياغي سمندر ناڅي د عشق وار راځي
رنګ رنګ لکه شنه زرغونه يار په دغه لار راځي

پل کې يې د ښۍ پښې څه رڼه چينه راووته
دا ځلې که خير وي شين دلدل په ګلو بار راځي

یار چې د ځوانۍ په شرنګ کې هڅه د راتلو وکړي
ته وا د ګرمۍ په مهال شنه فصل کې مار راځي

څنګه مو پیریان د مینې دي حالت ته نه نیسي ؟
داسې تماشو کې په بوډا سړي خمار راځي

وتراشه جلانه ! له ځوانۍ نه یې پیمخی رنګ
غوړ لرګی داور په بلولو کې پکار راځي.

۱۲ زمري ۱۳۸۲
غزنی

ګرم نه دی جانان چې وعده نه ساتي
ګوره او به بله ډیوه نه ساتي

څه یې ساتې وسپړه د زړه غوټه
ګل هم په وجود کې وږمه نه ساتي

دومره ډير خالونه دي په مخ باندې
خلک خو په ښار کې رمه نه ساتي

راکړه کنه ياره دا اومه خولګۍ
اوړي کې څوک نرمه ميوه نه ساتي

ښه شو چې ساده جلان دې وواژه
پوی سړی نا چله سيکه نه ساتي

۴ تله ۱۳۸۷
کابل نوا راډيو

چې د ګلپاڼو ایینې مو په نظر واوښتې
ښې شوې چې مو ږ ته د سندرو په هنر واوښتې

چې د یوې مسکا پر سر باندې عمرونه بایلي
دا ځلې دا سې د الفت په جوار ګر واوښتې

رنګ یې تک سپین دی او تنه یې تکه شنه لوړه ده
ساده زړګیه ! څه د وړانګو په نښتر واوښتې

قربان د سترګي ژوند جانانه هاغه پورې غره نه
سحر کې راغلې خو ماښام کې لکه لمر واوښتې

مینه ناک چم ته د ښکلا د اور له لوړ دیواله
جلانه یاره دا ته څنګه داسې زر واوښتې؟

۸ کب ۱۳۸۲
کابل تایمني رشاد ادبي کره کتنه

ته وا سره ګلونه پلوري راته ګوري
نن یو څوک ډیر په زړه پورې راته ګوري

اننګي یې د پیچکو لاس کې ایښي
د سپرلي جامو کې ستوري راته ګوري

چې طبیعت یې سترګې پیغلې کړې نو ته وا
زمانې له ښایست ښورې راته ګورې

کوم جنت یې د غوښتنو زړه کې شین شو؟
دا چې مړه مړه راته ګورې راته ګورې

عشق ترې مات کړ د حیا د دستور اصل
د جذبو لمبې ترې اورې راته ګورې

د سالو لاندې مې پټ کېنه جلانه !
د چم خلک له هرلورې راته ګورې

۲۲ وږي ۱۳۸۳
اریوب ځائي خیرمېنه

یوازې زه نه یم چې زړه مې ډیر یا کم خوږیږي
دستا په تلو منې چې کور، کلی او چم خوږیږي

تانده ځوانۍ باندې د درد پیټې وړي خود به ژاړي
په ګل اوږه چې تیږې بار کاندي د غم خوږیږي

د عاطفې هغه خوارېه پړاو ته ورسیدو
چې زه خوږیږم هغه هم په هغه دم خوږیږي

د وریښمني جانان یوه نښه دروښیمه
دومره نازک دی چې خبرې کوي هم خوږیږي



جلان په تور ټوپک سوری شي نه خوږیږي
چې ګلالۍ سترګې دې ډکې شي له نم خوږیږي

٢ مرغومي ١٣٨٨
کابل نوا راډیو

په خپل مغرور فطرت کې نا ستې له خپل زړه غږیږې
لکه سکروټه همیشه د اور په خوله غږیږې

ته د زړه غوځو پرهارو له حاله څه خبره؟
ته خو دغشو په زور تل لکه لینده غږیږې

د خپل ښایست په دنګ دیوال سپرې راکوزه نشې
ستا څه حاجت دی چې په درد د کوم سپیره غرېږي

ته د ګل رنګو تصویرو مور د هیندارو دره
ته خو اوس ګرانې د ارزښت له روڼ کاله غرېږې

جلان دې څومره یادوي څومره پرې ګرانه یې ته
خدای دې ژنده کړه چې بیا هم ورسره نه غرېږې

۸ وري ۱۳۸۹
کابل نوا راډیو

لولم دې مدام ځکه د عشق په کتابونو کې
ته لکه ښکلا د غزل پټه يې لفظونو کې

زور د محبت که د شوخۍ تر پولې يوړو خير
مرګ او ژوبله خامخا پيښيږي په جنګونو کې

سترګو يې د تاند پيغلتوب داسې ننبانې رواړې
ته وا مرغاوۍ ناستې د ځګو غرو ډنډونو کې

څه خو به ضرور د دې راتلو ترشا لرو ګرانې !
خلک د ثواب په خاطر لمونځ کا جوماتونو کې

څرخې يې جلانه مړې خولې د اننګو په سر
ته وا ډيوې بلې دي د ګلو په کورونو کې

۱۳ زمری ۱۳۸۲
غزني

## درد

قربان قربان ګلاب ګلاب محبوبې !
ځواني دې ګل باندې زهیره مه شه
ستا د خوارہ وجود نازکه سیمه
د اور په لومو کې راګیره مه شه

له ژړا ډک ليک دې راور سيدو
ګيلې دې ډيرې له جانان کړيدي
ستا د هغو اوښکو بلا واخلمه
د ليک لفظونه چې يې وران کړيدي.

زه يې ځواب کې درته څه وليکم؟
زه خپل ضمير ته ملامت يم ګرانې !
بايد حلال شم ستا دلاس په توره
زه يو قاتل د محبت يم ګرانې !

ماستا د ځوانو هيلو لو کړی دی
ستا ارمانونو ته مې سپک کتلي
چې زه اوته وو خدای مو ياد کړو سره
هغو قولونو ته مې سپک کتلي

تا په کره احساس د زړه له تله
زما د ژوند سترګو ته نور ورکړو
زما د پاڼې په شان ورک وجود ته
تا ګرانې زور ورکړو سرور ورکړو

تا د رواج په تندي پښې کیښودې
ځان دې ژوندی حساب په مړیني کړلو
دځوانۍ مست یاغي باغي غرور دې
لوګی لوګی له پاکې میني کړلو

دا بې له قیده بې له شرطه منم
چې ستا پر زړه د غم غوبل تیریږي
ژوند دې د سره انتظار خوله کې ولاړ
پر تا شیبه شیبه اجل تیریږي

څو مره ظالم څو مره بې وسه يمه
ټکور مې ستا د رنځ تنها کې نکړې
مادې د سترګو مبارکې اوښکې
چيرې په خپله لمن پاکې نکړې

ګرانې !له تايې را په مخه کړمه
حال به د بدې غريبۍ ووايم
اوس مې چاړه چاړه دردونه خوراک
څه به د تورې زندګۍ ووايم؟

چې خداى مو هم سوالونه نه قبلوي
اخر د چا درکې ګريوان څيرې کړو؟
دې پښتانه محيط ظالم محيط کې
ووايه بل څيرې که ځان څيرې کړو؟

ګرانې !د خدای ومنه زما ومنه
نوره زما په مينه اور پورې کړه
مخ دې خپل ګل ګل ژوند ته وګرځوه
د زړګي ور رانه په زور پورې کړه.

۲۳ زمري ۱۳۸۲ - غزني

## وچه منه

بیا هغه شپه ده بیا د شپې پاو باندې یوه بجه ده
بیا مې په زړه لکه باران د ګلو اووریدې
بیا مې په رګ رګ کې د وینې غوندې وخوزیدې
بیا د ماضي په جزیره کې ګډ له تا سره شوم

ستا د خبرو نندار ه کې ګډ له تا سره شوم
بیامې دا خپل لرګین صندوق خلاص کړی
بیا مې په سره دسمال کې ستا راکړې وچه منه
نیولې سترګو ته ده
هیره مې نه یې
خدای دې ما مړ کړي چې هیره دې کړم
دادی دستا راکړې وچې منې
دولسم کال لمانځم په اوښکو باندې

۲۵ مرغومي ۱۳۸۸
کابل کلاچه

## ورین تندي

مونږ رالوی شوي دالهام په ګلدرو کې یو چې
مازې کیسو نه د سندرو زمانې جوړو
پرې تاوه وو مدام د ذهن هنریزه مچن
تورو ډبرو نه ګل رنګې اینې جوړه و

په خام نظر پوره تکیه مه کړه لالیه د رڅار
دا خو معمول دی چې لعلونه له ایرو راوزي
وخت به وي داسې چې پر متهو مو سپرلي راشنه وي
د ښایست غر به له وړو وړو لاسو راوزي

دا چې په ورین تندي مدام وړو لیوني نازونه
د ښکلا شا ته غنم رنګ ماښام په پام کې لرو
سپینه سپوږمۍ بویه د مینځي غوندې لاس کې لرو
د مړه نظر پر پول د ستورو بام په پام کې لرو

د انسانیت خوارۀ ورغوي کې د مینې ځاځکی
د کایناتو د بډای حسن پاچا نوموو
د ژوندون وارۀ فلسفې یې شاګردۍ ته ناستې
ها پښتنې ځانګه چې مونږه یې حیا نوموو

چې سرې غونډۍ د اننګيو راکړې کړو پر ځان
ته وا جامونه د اومو شيدو په سر واړوو
بيا نو طبعيت هم تماشې زمونږ د مينو کوي
شوخي د شونډو د مستۍ په سمندر واړوو

ګرانه منې چې بغاوت د ژوند له پولي وکړو
اورورين وخت د ياغيتوب له شرنګه غيږ کې نيسو
ورځ هم د سپينې اينې په بڼه وخندوو
شپه لکه پيغله نجلۍ رڼګه بنګه غيږ کې نيسو

۴ کب ۱۳۸۵
نښتر دوديزه مشاعره
پکتيا - ګرديز ښار

## ګلابي خنجر

بيا راته ژوند
د يوې نوې ګلدرې دروازه پرانيستله
بيا مې د هيلو زوريدلې پيغلې
مړژواندي تن کې د هوس غوښتنې وغزيدې

بيا مې په درد کې تيره شوی زړګی
په ګلاب رنګه خنجرو لګيده
ته وا چې توی شي په اوده ماشوم
ښې يخې اوبه
وبګنيده
بيا مې فطرت کې يوه زرينه نړۍ وغزيده
بيا مې نظر نظر کې
د مستانه سرورو يالې بهيږي
بيا وخت حسينه لورينه وکړه
بيا د يو چا معصوم نازک وجود کې
ما د کالونو ورکه وموندله

۶ سلواغه ۱۳۸۸
کابل نوا راډيو

## رومال

په سرو تارو جوړه روماله ! ژړوې مې ولې ؟
ته دماضي دا بې تشبې منظرې ولې راوړې؟
ته ښه پوهيږې چې د زغم لمن مې دوه پړکه ده
د ځوانې مرګې مينې سرې خاطرې ولې راوړې؟

د زړه د پاسه د کميس جيب کې دې نه ګرځوم
اوس له هغې اوس له ما لرې جدايي تيره وه
ځکه چې اوس د چا له مخه خولې نه پاکوې
اوس د زاړه صندوق په کونج کې زندګي تيره وه

اوس ته پوهيږې ؟ زمانې جامې په ښټ اغوستي
اوس هم ژوند شته خو ژوند پيکه دی ژوند مزه نلري
اوس هم سپرلي ځي او راځي خو د بنا يست پلو يې
د بې مودې ماشوم په څير رنګ کې سيکه نلري

اوس به يې څه په جاننه نومونو ونوموم؟
زيږ ماز ديګر چېنه لري سره لوپټه نلري
چې يې د ميني کيسې وړې په غزولي پړک کې
ها مين زړونه د رمز هغه ايينه نلري

کلی یې شته کوڅه یې شته او کور یې هم هاغسې
خو د حجرې کړکی د سره لاس اشاره نلري
چې پخو شپو کې به له مړه قدمه هم ښوریده
هغه دوه چتی کور هغه اوږده زینه نلري

اوده احساس به مې د مړې مړې هیلې څه راویښ کړي؟

د زړه نغری مې له ایرو ډک دی لمبه نلري
اوس هغه دنګ مین په ځان کې مات دی ځان ته ژاړي
اوس هیڅ تکیه اوس هیڅ باور په ژوندانه نلري

۲۵ لیندۍ ۱۳۸۵
کابل شمشاد تلویزیون

## نجلۍ

تورمابنام دی د یو تت څراغ نه لاندې
د ښار واټ کې یوه پیغله ده ولاړه
تور وړوکی شال یې پروت په تورو څڼو
خو له تور کمیس یې سپینې متې وتې

ته وا ورانګې د سپوږمۍ وي راپرویوتي
د شنو څانګو له مابین د ونې لاندې
دا نجلۍ ګومان کومه مکتبۍ ده
په ښي لاس کې یې نیولي دوه کتابه
سپینچک مخ ته یې د زړو ژبې توسیږي
پرې باران د ښکلا شوی بې حسابه
یوې بلې خوا ته مخ اړوي داسې
ته وا غره کې چې هوسۍ د ښکاري غږ وي
اوریدلی ترهیدلي ګورې هر خوا
له خوځښت یې راته داسې معلومیږي
چې وعده یې کړې ګل نازک بدن یې
د اور مخې انتظار تبې نیولی
مینتوب یې پیغلتوب ته په ځولۍ کې
د کوم چا د میني درد دې اچولی
داحساس په سردرو کې یې څوک ګرځي
چې د زړه کعبه یې ټوله پرې بایللې.
ګوره ګوره یو زلمی یې خوا ته راغی

ورنږدې شو ورنږدې شو ورنږدې شو
پرې ور رڼک شو وا دا څومره شوخ زلمی دی
ترې چاپېر يې کړل له غاړې نه لاسونه
ته وا باد کې د ببرې ونې څانګې
ور خورې شي د ځنګ بلې ونې باندې
ای لاسونه يې د يو بل لاس کې ورکړل
په خندا خندا جوړه د تيارو خوا ته
ور روان دي او ورو ورو په کې ورکيږي
ته وا غبرګ ګلان له يوې څانګې راتوی شي
د ويالې اوبه يې وا خلي وړي يې وړي يې
تر هغې چې اخر سترګو نه پنا شي

۸ مرغومي ۱۳۸۷
نوا راډيو کابل

# جادو

په زيارتونو مې بلا بلا ډېوې بلې کړې
د جمعې شپه به مې تر سپين سحره تېره کړله
ما به خالق ته د دعا لپو کې ته کړلې
ما به دنيا شاته ګوزار کړه ما به هېره کړله

په جوماتو کې مې دعا له ملايانو غوښته
او ملنګان مې له لمنو نه هم ډېر و نيول
ستا پر کافر زړه خدايزده څه ويښتان د ظلم شنه دي؟
د ستا کرم خولې ته زما زهرګنډ ډېر و نيول

خو اوس دې پاېلې ته صنمه! رسيدلي يم چې
نور مو په منځ کې څه د مينې په نوم پاتې نه دي
ما هم د مينې له روا لارې بې لارې ګڼه
لا خو ژوندي يمه د فکر پښې مې ماتې نه دي

په تا مې زړه د دردو نه کېږي خوځه و کړمه
هم تامجبور کړم چې له بلې لارې کار واخلمه
هغه متل دی ناروا شي ضرورت کې روا
لويه ګناه کوم په لاس کې به انکار واخلمه

پرون دې ښار ته و راغلی بنګالی جادوګر
په لوړ قیمت مې د جادو طریقه زده کړه ترینه
په هریو لفظ کې یې لمبې وې د قاتل جهالت
خو ځان مې ټینګ کړ او په شنه زور مې پخه کړه ترېنه

ګرانې !خبره اوسه و ګرانې خبره اوسه
بیا دې ګیله ،هیله ،زارۍ ،سوال او ژړا نه اورم
بیا که د سیوري غوندې ګام په ګام راځې راپسې
بیا دې په خوله کې قسمونه د وفا نه اورم

بیګاه ته ځم د هغې جګې هدیرې په لوري
په یو لویدلي زاړه قبر کې به شپه تېروم
نوم دې تړمه د جادو په سرچپه ټکو کې
د نوم پر تورو دې د تور جادو نیزه تېروم

که دې قاتل اقدام کې یو ځلې کامیاب شو مه زه
ستا د خوبو پسته مسته نړۍ به ولړزوم
بیا به له خپله سره کلوښتې کلوښتې څښې شلوې
په خدای ظالمې ! پخپل ځان پسې دې وژړوم

زه به د میني تار د بل چا سره نه غزوم
خو تا به هم چېرې د میني په نوم یاده نکړم
د درد پر ګڼو جزیرو به دې ورګډه کړمه
د ژوند زرینو ګلدرو کې به دې ښاده نکړم

بیا چې د کلي د ګودر پر لاره ځمه کله
په جادو یي زور به مې ټولې جینکۍ یادوي
زه به د شنه څادرنه لاندې غلی غلی خاندم
څوک به ځواني یادوي څوک به مې شړۍ یادوي

بیابه د کلي د ودونو شرنګ او شرونګ کې ګلې !
مستو چمبو سره وریتې وریتې ټپې ووایې
بیا به دې خولې نه زما نوم بې واره وغزیږي
د جنکیو په ټولي کې به نارې ووایې

۱۳لیندۍ ۱۳۸۵
شمشاد تیلویزیون کابل

## بس ده

بس ده د زړه په دروازې پسې مې
نوره د کرکې زنګ وهلې تاله اچومه
بس ده د ستا له اینو سترګو دنیا نه وینم
بس ده د زړه چوکټ کې

ستا ګلابي تصویر ته
نور لکه ناوې په سرو سلګیو نه ژاړمه
بس ده په خپلې عاطفې باندې مې اور لګوم
بس ده پښتو له مینې نه ځاروم
خپل احساسات مې په ځنځیر کې د غرور تړمه
په اخري ځل دا وعده کومه
نوره دې نه یادوم
له دې نه وروسته دې پخه هېروم

۳۰ سلواغه ۱۳۸۸
کابل نوا راډیو

## لکه ماته ایینه پیغله

پلار مې خان د کلي دی بیخي لویه حجره لري
سره شړۍ په ولو لري ښه جګه شمله لره
ښه زین کړی اس لري او ښه توره تیره لره
ټول کلی یې حکم مني ځو مره دبدبه لري

پلار مې د غرور په نیلي سپور و ځان یې نه لیدو
دنګ و په خپل ځان کې مقابل انسان یې نه لیدو
نیغ به یې اسمان ته کتل ټیټ جهان یې نه لیدو
ځان باندې غره و خو دلوی خدای شان یې نه لیدو

پا څیدو په نه خبره خرپ سړی یې وواژه
دومره بې پروا ته وا هوسۍ بچی یې وواژه
خدایزده چې د چا د قسمت شین بنګړی یې وواژه
قتل سره جوخت د یوه ژوند سپرلی یې وواژه

تیرې اوه ورځې نه وې لربر خانان جمع شول
ښې ستړې حجرې ته بډاګان او ځوانان جمع شول
هر خوا سپین پټکي وو طالبان ملایان جمع شول
غبرګ غویان حلال شول ولسي ملکان جمع شول

جوړې ننواتې شوې جرګې چې تړون وغوښتو
قتل او په بدو یې د ښو پیوستون وغوښتو

زه یې په ژړا ورکړم له ما یې سکون وغوښتو
زما د روح په مرګ یې زما پلار ته ژوندون وغوښتو

زما انساني حق زما د پلار د غو کړو وړو یوړو
خوږ نعمت ارام د ژوند ، لمبو یوړو لمبو یوړو
شرنګ مې د ځوانۍ د غم خنجر د غم چاړو یوړو
ها ګلابي رنګ مې زیړ په رنځ شو اندیښنو یوړو

زه د ژوند په پښو کې لکه ماته ایینه پیغله
زه د زمانو د درد په ختو کې پرته پیغله
زه له خندا لرې په ژړا ویر کې راشنه پیغله
زه د بد رواج غشو خوړلې پښتنه پیغله

۱۴ لیندۍ ۱۳۸۵
کابل شمشاد تلویزیون

## ښځه

مونږ همیشه ښځې ته
د خپل شهوت له دروازې کتلي
مونږ همیشه ښځه
د نارینه د څو شیبو د خوشالۍ لپاره
یوه اله ګڼلې
مونږ همیشه ښځه
په مقابل کې د ځان
د بې ارزښته مات خاورین لوښې نه ټیټه ګڼو
او داسې نور دروا خله

خو مونږ هيڅکله
د انسانيت د دغې نيمې نړۍ
معنوي اړخ ته قايل شوي نه يو
مونږ ښځه تل
د مور خور لور او د ميرمنې په نوم ياده کړې
بس له ادمه تر دې دمه پورې
د دې شعار سيوري ته ژوند تيره وه
هغه ربښتونی حق چې ښځې ته اسلام او انسانيت ورکړې
مونږ د غرور ګونډې وهلې پرې
او پټ يې ساتو
ځکه که دا حق ورکړو
نو بيا خو دې نړۍ کې
مونږ بې غيرته او کچه خلک يو

۱۱ کب ۱۳۸۸
کابل نوا راډيو

# ازادي

ازادي د ژوند د پيغلې ګاڼه بويه
ازادي د سل رنګه ښايست چېنه ده
ازادي د وړانګو دنګه مېناره ده
ورنسکوره هره ګل ګل زمانه ده

چې پراته يې منځ کې واړه کاينات دي
ازادي د قدرت هغه دايره ده
انسانيت چې يې د ذوق پر شونډو لولي
د فطرت په لاسو کښلې ترانه ده
ازادي د کيف لبريزه پيمانه ده
لکه مور لکه جانان ، جانان خوږه ده
ازادي د باد ورغوي کې ډيوه ده
نو اسان يې بلول نه دي جانانه
ازادي تازه په يو سمندر وينو
تش په خوله يې لوړ ساتل نه دي جانانه
ازادي راوړل د قاف غره ماتول دي
د پاخه فصل ريبل نه دي جانانه
ازادي د لمر د بام پر سر قدم دی
د خپل کور بام ته ختل نه دي جانانه
ازادي ده د جاهل دور وژنه

ازادي د ورور وژل نه دي جانانه
له ادمه تر دې دمه پرې ژوندی یم
ازادي زما سمبول زما نښان دی
رانه ستوري لکه اوښکې پرې راوري
دا زما د ازادۍ د عشق ګریوان دی
د نړۍ د ازادۍ د تاریخ یون کې
طلایي تاریخ زما په کې روان دی
زما وجود د ازادۍ له خټو جوړ دی
ازادي زما مذهب زما ایمان دی
چې پر سر مې د ویاړونو توغ رپیږي
نوم مې ګران افغانستان افغانستان دی

۲۸ زمري ۱۳۸۷
کابل – انټر کانټیننټل هوټل. دا زادۍ مشاعره

## فلسفه

په دې کیسه کې لرم
یوه ځانګړې فلسفه د مینې
جانان ته وګورم
په ځان مین شم

## مور

د مور ورځ ده په ګلونو لمانځل کیږي
په ډالیو په رنګونو لمانځل کیږي
په خوږو خوږو غږونو لمانځل کیږي
په شاندارو محفلونو لمانځل کیږي

زه څه وکړمه چې نه لرم مورجانه
زه یې یاد لمانځم په سپینو سپینو اوښکو
زما وجود نن د دردونو سمندر دی
لوند او خیشت دی ښه په وینو وینو اوښکو

زه نن ځان احساسومه په نړۍ کې
له تر ټولو یو بې وسه او بې کسه
ته وا خوله ،سترګې، لاسونه پښې مې نشته
ناهیلي مې رابهیږي له نفسه

زه نن ناست یم د تودې ژړا په غیږ کې
ایینه د تیر زمان مې پر ته مخ ته
پکې وینمه خیره مې د مورجانې
په زړګي خورم د دردونو لښته سخته

بختور دي هغه څوک چې لري مېندې
ورکوي مبارکي په مينه مينه
او خوږې مېندې يې هم خپل اولادونه
نازوي او ښکلوي په مينه مينه

نو زه هم د مور سپېڅلي لوړ مقام ته
ورکوم مبارکي د مور د ورځې
دا نړۍ څه چې جنت کې دې ژوندۍ وي
سوله مخې خپلواکي د مور د ورځې

۲۴ غبرګولی ۱۳۸۸
کابل نوا راډيو
د مور ورځ

# کلي

هره خبره دې
د کايناتو د ښکلا د دروازې
رڼه کلي ښکاريده
خو اوس جوته شو چې
هره خبره دې رڼه کلي ده
مګر خلاصيږي پرې د شنو دروغو
د توربخونې نرۍ زيږه او کچه دراوزه

۹ کب ۱۳۸۸
کابل نوا راډيو

## شاعر او تیږه

شاعر: نوم دې مینه د انسان په شان ته ګورې تیږې !
نن دې راسپړم راز کوو خبرې نورې تیږې !

تیږه : شاعره ! خپله ورکه بل ځای چیرې ولټوه
خپلو پوښتنو ته ځواب ما سره مه لټوه

شاعر :تیرې ! قربان دې شم ما دوست وګڼه حال ووایه
ستا په خیره کې داسې بل ډول تاثیر راشین دی
ستا له خبرو نه سرې سرې سلګۍ وریږي
ستا د اواز په رپیدونکې تار کې ویر راشین دی
ګرانې ! د ستا په سوزیدلي تپي تپي رنګ کې
د یوې غوټې مینې دوه پرکه تصویر راشین دی
اخ په تا د کومو ستمګرو لاسو سیوری شوی؟
په هر یو رګ رګ کې دې خاپ خاپ د یو تیر راشین دی

تیره ! شاعره ! اوس چې مې راسپړې راته غوږ ونیسه
مونږ و سل ګونه کاله وړاندې دوه خواره مینان
جانان زلمی و او زه هم ومه ښه چټه پیغله
مونږ د یو کلي یو ګاونډ د یو کاله مینان
مونږه په زړونو کې د یو بل سره ژوند تیراوه
مونږ د فطرت په پسرلي کې وو راشنه مینان

مونږه حیا لکه سینګار لکه ایمان بلله
مونږ د یاغي محیط په خوله کې پښتانه مینان

شاعر: د ژړغوني غږ بلا دې واخلم وایه کنه
د درد د پاڼو د هر لفظ مانا راښایه کنه

تیږه ! شاعره ! پوی نه شوو چې څه ټکه راولویدله؟
زه او جانان یو څو شیبې په لار کې ودریدو
غوښتل مو یو بل ته د زړو په ژبو وغږیږو
د یو زرین جهان په سره ګلزار کې ودریدو
خو یو ناڅاپه یو مرګونی غږ مو غوږ ته راغی
وې یې هغوی ګورې د سرې بې شرمۍ اور شویدي
دغو بې شرمو خو زمونږه پښتو سپکه کړله
راځئ چې ویې وژنو دا دوه کسان تور شویدي
مونږ پوهیدو چې زمونږ ترونه او زمونږ پلرونه
دلته د یو بل سره ژوند کړي د تربرونو په څیر
مونږ پوهیدو چې زمونږ مرګ به په بوړي ټوپک وي
مونږ به په ډزو کړي سوري د غلبیلونو په څیر

جانان ویل چې ګرانې ! نوره کلیمه تیروه
راځه چې پښې سپکې کړو بله چاره پاتې نه ده
توکل په خدای یا به مو وژني یا به ځان خلاصوو
همدا دوې لارې دي او بله لاره پاتې نه ده
مونږه په منډو شو د شنو کروندو شنه لمن کې
مونږه د غره په لور د تیښتې لاره ونیوله
راپسې چیغه شوه له کلي ښه په شور او ځوږ کې
د هوډ په لاس مو د توکل هینداره ونیوله
شاعره ! مونږه چې رانیغ شوو په دې خړې غونډې
زړونه مو خولو ته راختلي وو مزل نه کیده
هر څو که مونږ په چټکتیا د ځوانۍ زور اچوو
پښې او لاسونه مو بې دمه وو څه چل نه کیده
بس د اوږدو اوږدو تږپکو د خولو ننښه شولو
جانان مې څو ډزه په ګل ګل بدن ولګیده
زما هم سر نه چرمداره لوپټه وښویده

د درد په غشو مې د هيلو چمن ولګيدو
جانان په وينه وينه خولې کې راته وويل چې
ګرانې ! قربان دې شم زه مرمه خو ته ځان خلاصوه
دا ظالمان به دې په کاڼو باندې ساه وکاږي
له دې تورلاسو نه ګلاب ګلاب ګريوان خلاصوه
غوښتل مې وو ايم جانانه له تاسل ځله ځار
خو نامعلوم لاس د يار خولې نه سلګۍ وشلوله
زه هکه پکه شوم د ځان له واکه ووتمه
اسمانې ټکې مو د زړونو لړۍ وشلوله
بس ما په غيږه کې جانان ړنګ بنګ راوړلو
خدای ته مې سوال وکړو چې خدايه ! ته مو وينې خدايه !
ما ژوندۍ تيږه کړه چې ذکر ترقيامته وکړم
په مينه مينه د جانان د پاکې مينې خدايه !
زه خالق تيږه کړم دې وخت کې زورور د کلي
راغلل شهيد جانان يې څو ډبرې نور وويشتو
بيا يې زما په خوا کې ښير جانان ته وکيندلو
د يو سپيڅلي عشق تندی يې په پيغور وويشتو

شاعر : تیږې ! بخښنه غواړم خاص یوه پوښتنه کوم
دا زه منم تاسو ضمیر ته ازادي ورکړې
خو اوس د نور په کرشمو کې یو بل وینی کنه؟
تاسو خو مینه کې سپیڅلې قربانې ورکړې

تیږه : شاعره !ووایم که نه وایم خو وبه وایم
رب دی د پاکو او سپیڅلو زړونو تل ملګری
مونږه په مینه کې ښه لویه مرتبه ګټلې
شکر خالق دوباره راکړو ماته خپل ملګری
نو ته پوهیږې ؟ چې مونږ څومره بختور خلک یو ؟
مونږه یو خوږ سپیڅلی ژوند د ژوند په مړینه کوو
شپه چې پخه شي یار له خاورو زه له تیږې ووزم
بس ټوله شپه د یو او بل په غیږې کې مینه کوو

۹ غبرګولی ۱۳۸۵
لوګر د سنځل ګل مشاعره

مونږه د میني اوښکلا قانون ته ژمن خلک یو
زمونږه کار د ګل هیندارو نه د ګرد مینځل دي
هسې خیالونه په لفظونو کې پېیل هم نه دي
شعر د تنهاکو په اوبو باندې د درد مینځل دي

چې لمبوي يې هر نظر په زهرجنو کتو
د کوم طبيب په مخکې واچوو د درد لاسونه ؟
بدرنګوي چې د ګلپاڼو د پېغلوټو څټې
خدايه په غشو د باران وله د ګرد لاسونه

***

د اوښکو زړه مې د ګريوان د ريښو لپو کې اوس
د اميد ترخ کې په سلګو کوي جانان ته دعا
بلا دې واخلمه سپوږمۍ ستورو ته ووايه چې
په نوراني شونډو وکړي افغانستان ته دعا

پرې خوره به شي د شنه فصل قالينه
نه ده دا چې مو د فکر کڅ ويجاړ دی
څوک دې نه کا د پښتو د ورکې هڅه
ددې ژبې تر شا لوی ولس ولاړ دی

***

ياد مو د بې غورو په نوم نکړې پام لمرمخيه !
مونږ کړې مرګوني وخت کې هم هڅه تر ګله ده
تلو چې يار له څنګو نه يې سور ګلاب راولويدو
دغه خاطره نه ده د سره اجل منګوله ده

سپین ګلابونه یې د سترګو له درو بهیږي
بیا د جانان د احساساتو پسرلی یاغی دی
بس چې مې وویني راغاړي وزي زه څه ملامت؟
زه په خدای ډیره ګذاره کوم خو دی یاغي دی



✵ ✵ ✵

د زړګیو د ښتې تږې درته ناستې
د لمدو څڼو بارانه چرته لاړې؟
د اختر شپه ده یوازې زه او زړه یو
یادوو دې ډیر جانانه چرته لاړې؟

ستركې د جانان زما په ليدو په ځان كې وركې شي
څو مره لېوني دي په ځواني كې زړښت غواړي
سوې مو سينې د ارمانونو په سكروټو دي
دا للمې د څټو له اسمان نه اوربښت غواړي

✲✲✲

اى ! په بسملو ارادو به منزل څه وګټو ؟
د ژوند په دښته مو د هر مزل اغاز رنځور دى
اوس مو تودې سندرې رپې لكه جال د غمې
په دې ماحول كې حقيقت مړ دى مجاز رنځور دى

د ازمېښت لاره مې ونیوه بخښنه غواړم
دروازه څوک خلاصوي؟ شپې نه پېژندونکي غرېته
د زمانو د اداګانو غلامي به وکړې
که مخامخ شوې د حسینو قتلېدونکي غرېته



✲ ✲ ✲

نا څاپي راباندې ولې راخوره شوې
د تازه خیال ډیوګۍ دې رانه مړه کړه
کج بانه یې د نظر ادا ته تم دي
بختور دي پوهنتون کې کوي زده کړه

وخت به وي ها غر نه دی !؟ سردار به د سپرلیو وي
بیا به یې د ښنو چینو کې هر یو پاچا مخ مینځي
ځه چې ځو زړګیه ! شپه د هغه کره وکړو چې
ناز یې هم پښتون وي په سنګینه حیا مخ مینځي

* * *

چینه مخ یې د موسکا په ګلو رنګ شو ؟
که په زیړ ما زدیګري کې لمر راړنګ شو ؟
ناز یې نه کوي مستي د نظر لاس کې
د هینداري په قالب کې ګلاب زنګ شو.

سره لوپټه دې وينم رپې خو اواز دې نشته
لکه يو څوک کوي د غره لور ته له دښت خبره
جانانه ماته کته مته شي ستا غيږه رایاد
وريځې چې پېڅو کې راتاو کړي د اورښت خبره



***

د خوښۍ پولې نه يو څو جهانه هاغې خوا ته
لکه اونيز مړی کوږ پروت پښو داجل کې يمه
زما او خندا ترمنځه لوی غر د ژړا پروت دی
په دې ګمان مه شې چې شوم دې په محفل کې يمه

ګله !قربان زړه د شاعر مه وژنه
هنر چې مړ شي زمانې مړې شي
معما د ددرد دې راسپړه جلانه !
زر شه چې ګرمې تلوسې مړې شي

***

لږ خو مې جانانه د نظر په لور درواړوه.
مینځم د ګلاب کنډول کې مینه په خوږو اوبو
خیر دی که ښایست دې د ناز سیوري ته نسکور کړمه
ګرانې ! خلک تل لمبوي مړي په تودو اوبو

جهالت په وحشيانه لاره روان کړې
لا غرق نه يې له دې نوره به غرق څه وي؟
د کنځلو په بدل چې کنځل درکړم
نو زما او ستا ترمنځه به فرق څه وي؟

***

اوس مې نيولې د اغزنې مينې لار جانانه
لکه لمر ګر ځم کړې ورځ په يو مدار جانانه
د ليونۍ خندا نعمت رابانديې مه بندوه
پرمونږ مدام کوه دداسې تورې وار جانانه !

څه ثبوت د سوال دې نننۍ انکار ته وړاندې کړم؟
هې افسوس جانانه چې پرون خبرې نه کوې
کوم جادوګر ناز د محبت له سیمې ویستو ؟
ګل جانان مې اوس په ټیلفون خبرې نه کوي

***

څه که زه او ته نن یو بل نه پردي یو
په دنیا د محبت کې خو ژوندي یو
کاینات دې ښکلا بل چا ته پیرزو کړي
مونږ د خپل وجود تر شا شنه پسرلي یو

ته چې راته وخاندې زما هم مینه ځوانه شي
بریښ کوي ضرور سترګې چې لمر خوا ته کاته وشي
خیر دی زه خو مړ صحیي خو ته جانانه پام کوه
هسې نه څه چارې دې په تکه سپینه خوله وشي.



✲ ✲ ✲

هسې دې کلي ته راپېښ شوم اړول خو مې نه
دا چل چلند د میلمنو سره څوک ښه نه ګڼي
ډز که کوې نو د ټټر پر سر مې ګل ایښی دی
مرورتوب د پښتنو سره څوک ښه نه ګڼي

چې د څوانۍ زور يې اوبه شي رنګ شېبې ترې يوسي
دليوني حسن خاوند به ځان ته هله پام شي
هغه چې ځان سينګاروي د لمر رڼا ته مدام
زما رېښې رېښې ګرېوان ته به يې کله پام شي



***

ټس ووهي چاود شي پر هار لوند شي په سپينو وينو
دا سې څوک نشته چې مو کړي ټکور ټکور تنها کې
ساده پيغلوټې د ډوډۍ د پخولو شوق کې
په ځان پوه نشوه ترينه څښې کړې تنور تنها کې

سره ټوټه له سرټږم په رنګ يې د تربور غواړم
لاندې له سالو يې دريابونه د سرور غواړم
دنګ سر مې نسکور په سجده يو خداى ته او نور جلان
مست پښتني خوى کې پښتني هوډ او غرور غواړم



***

په حسين ولس مې داسې مرګى سور دى
لکه ګډ چې په بې موره وريو پړانګ وي
ددې ښار بادار مثال هم داسې دى چې
يو ملنګ يوه خورجينه يو يې ډانګ وي

خدایزده چې کوم شک مو محبت کې دروغ وکرل؟
اوس زما او ستا ترمنځه ټول حقایق ماته خوري
ګوره له شاعر نه په هر خیال شننه مه غواړه
شعر خو بې مفهومه کیف دی کیف کې منطق ماته خوري

***

دغه مینه ناک دور کې څومره تنده تنده ده؟
زه مرمه په ګل پسې او ګل مري په بل ګل پسې
خیر دی که مې هیلې بدرګه ستا د ښکلا شولې
اړوي لمنې کوچۍ پیغلې په بخمل پسې

خدایه نور راکړه زورور فکرونه
سر ته مو راوله د سر فکرونه
د محبت په تارو کلک وتړه
د بر کابل د لر خیبر فکرونه

***

ستا د قدم د غبار رنګ پسې مو هم جانانه !
د ریګ روان غوندې د دواړو سترګو تور ښویږي
هر ما سخوتن په هغه کور پسې چې ته پکې یې
یقین دې وشه زمونږ د کاڼو ختو کور ښویږي.

جانانه رحم ته اور وا چوه د ظلم په لاس
ښایست چې کانړی شي شاعر ته په هنر کې پټ شي
چې مې له مینې پټوې سترګې اشنا حق لرې
ستوري چې خوب کوي د وریځې په څادر کې پټ شي



✲ ✲ ✲

اینې ته مې د زړه دوخت انصاف نه
خاص را پاتې دیو تک تور کانړي وارشو
سندریزو سترګو چېرته رانه ولاړې؟
تخیل مې د رباب شکېدلی تارشو

ګام ګام ته یې د نوې ښکلا ور پرانیستل کیږي
ژوندون چې مینه ناک شي د نفرت له نړۍ ووزي
اشنا تنګ نظري کول ښه کار نه دی را ړنګ شه
انسان باید په ژوند کې د خپل تن له کړۍ ووزي

* * *

پاچا یې هم په توره د خپل زور ماتوی نشي
خبره چې ولاړه په دلیل او په منطق وي
جلان څه ګرم چې ټوله شاعري یې مینه مینه
انسان باید په ژوند کې خپل مسلک لره صادق وي

## مننې

له ګران دوست او ځوان شاعر هارون پرهر څخه په مينه مننه کوم چې د دې کتاب د چاپ لګښت يې په غاړه واخيست له خپل فرهنګ او له خپلې خوږې ژبې سره يې مينه همداسې تانده غواړم. د هيواد د تکړه ليکوال محمدنبي تدبير څخه زياته مننه چې د دې کتاب اوډون يې وکړ، د چاپ په اړه يې نېکې مشورې راکړې او د قدرمن دوست کفايت الله جان څخه ډېره مننه چې د هېندارو درې پښتي يې جوړه کړه

په درنښت

جلان